# د افغانستان اسلامي امارت

## د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد د مرکز او ولایاتو
ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي

---

۴/ ربیع الأول/۱۴۴۴هـ ق مطابق ۸/ میزان/۱۴۰۱هـ ش

## د عُمـــــــــــــــرې د اداء کولو فضائل او احکام

إن الحمد لله، نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله، فلا مضلَّ له، ومن يُضلل، فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، أما بعد:

قال الله عز وجل: {وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ} البقرة: ۱۹۶

و قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (الْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا) صحيح البخارى

### د عمرې تعریف:

عمره په لغت کې د آباد ځای قصد ته ویل کیږي او په اصطلاح کې د بیت الله زیارت کول دي په مخصوصه طریقه سره.

( طلبة الطلبة، أنيس الفقهاء)

کوم کسان چې د حج توان نلري او یا ورته د فرضي حج فرصت نه مساعد کیږي په کارده چې دا سې کسان د ژوند څخه ګټه واخلي او عمره دې وکړي؛ ځکه له یوی خوا په ژوند هیڅ باور نشته او له بل پلوه د حج شرائط سخت دي او هرچا ته ددې زمینه نه مساعد کیږي چې حج وکړي.

د افغانستان اسلامي امارت د ارشاد، حج او اوقافو وزارت په اوسنیو سختو شرائطو کوښښ وکړ ترڅو د خپل ولس لپاره د عمرې کولو د سفر سهولت او آسانتیاوی برابری کړي او د عمرې لپاره اړین خدمات ترسره شي.

عمره دومره فضیلت لري چې الله تعالی د حج سره پیوسته ذکر کړی ده او فرمایي: {وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ} البقرة: ۱۹۶ ترجمه: او پوره اداء کړئ حج خاص د الله تعالی لره.

عبدالله ابن عباس رضي الله عنه فرمايي: (إِنَّهَا لَقَرِينَتُهَا فِي كِتَابِ اللهِ) صحيح البخاري

ترجمه:- عمره د حج سره د الله تعالی په کتاب کې ملګری ذکر شوی ده. یعنی دواړه یوځای ذکر شوي دي اګر که ددواړو حکم جدا جدا دی.[عمدة القاري]

عمره هغه عبادت دی چې له امله یې ګناهونه بښل کیږي. په حدیث کې راځي:(الْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا)البخاری

ترجمه:- یوه عمره تر بلی عمرې پوری بښونکی ده د هغه ګناهونو چې ددواړو به منځ کې شوی وي.

عمره فقر لمنځه وړي او ګناهونه محوه کوي. په يو حديث مبارك کې دا سې راځي: عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ، قال: قال رسول الله صلى الله عليه و سلم :( تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَالذُّنُوبَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيْدِ وَالذَّهَبِ) . رواه الترمذي والنسائي

ترجمه:- له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : حج او عمره دواړه يو په بل پسې اداء کړئ، ځکه دا دواړه فقر او ګناهونه داسې لرې کوي لکه د پښ (آهنګر) نغرى چې د اوسپني، سرو او سپينو زرو خيرى لرې کوي.

بناءً په کارده هغه کسان چې حج يې کړی دی، عمره هم وکړي او ددې حديث مصداق وګرځي.

په رمضان المبارك مياشت کې عمره کول د حج په اندازه ثواب لري. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:... ( عُمْرَةٌ فِي رَمَضَانَ تَعْدِلُ حَجَّةً) متفق عليه .

عمره کوونکو ته د الله تعالى تړولی ويل شوی دی. په يو بل حديث کې راځي: عن جابر، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :(الحُجَّاجُ وَالعُمَّارُ وَفدُاللهِ ؛ دَعَاهُم فَأَجَابُوهُ، وَسَأَلُوهُ فَأَعطَاهُم). البزار وقال الهيثمي: رجاله ثقات مجمع الزوائد .

ترجمه:- له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي: د الله پيغمبر صلى الله عليه و سلم وفرمايل : حج کوونکي او عمره کوونکي د الله تعالى ډله (ميلمانه) دي، الله تعالى هغوی راوغو ښتل، نو هغوی يې غو ښتنه قبوله کړه او دوی د الله نه دعاوې وغوښتې او الله تعالى د دوی دعاوي قبولې کړې.

عمره د رسول الله صلى الله عليه وسلم عمل دی . پيغمبر عليه السلام څلور ځله د عمرې لپاره احرام تړلی دی لومړی د هجرت په شپږم کال پيغمبرعليه السلام د عمرې او حج لپاره احرام وتړلو او بيا مشرکانو د حديبې په مقام کې پيغمبرعليه السلام مکې ته د ورتګ څخه منع کړ ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ددغې عمرې قضايي په دوهم کال کې راوړه. دوهمه عمره د جعرانې د مقام څخه د هجرت په اتم کال د ذوالقعدې مياشت کې وه. دريمه عمره د هجرت په لسم کال هغه وخت چې پيغمبرعليه السلام د حجة الوداع حج کولو، چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم جمله تړولې درى عمرې کيږي او دا د عمرې په فضيلت دلالت کوي. په حديث شريف کې راځي: (عَنْ قَتَادَةَ سَأَلْتُ أَنَسًا - رضي الله عنه - كَمِ اعْتَمَرَ النَّبِيُّ قَالَ أَرْبَعٌ (أَرْبَعًا) عُمْرَةُ الْحُدَيْبِيَةِ فِي ذِي الْقَعْدَةِ حَيْثُ صَدَّهُ الْمُشْرِكُونَ وَعُمْرَةً مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ فِي ذِي الْقَعْدَةِ حَيْثُ صَالَحَهُمْ وَعُمْرَةَ الْجِعْرَانَةِ إِذْ قَسَمَ غَنِيمَةَ أُرَاهُ حُنَيْنٍ قُلْتُ كَمْ حَجَّ قَالَ وَاحِدَةً). صحيح البخاري ط: طوق النجاة

ترجمه:- قتاده رحمه الله فرمايې ما د حضرت انس رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم څو عمرې کړې دي ؟ هغه راته وويل: پيغمبرعليه السلام څلور عمرې کړي دي. د حديبې عمره په ذوالقعدې مياشت کې هغه وخت چې مشرکانو دپيغمبرعليه السلام د حج څخه بند کړ او د حديبې څخه ورو سته په راتلونکي کال کې د ذوالحجې په مياشت کې عمره هغه وخت چې پيغمبرعليه السلام ورسره مصالحه وکړه او د جعرانه عمره هغه وخت چې پيغمبرعليه السلام غنيمتونه تقسيمول فکر کوم چې د حنين غنيمتونه ؤ . بيا مې ورته وويل: پيغمبرعليه السلام څو حجونه کړي دي ؟ هغه راته وويل: يو حج يې کړی دی.

هر کله چې د حديبې په صلحه کې الله تعالى فتحه د رسول الله صلى الله عليه و سلم او مسلمانانو په برخه شوه نو ددې څخه وروسته يې زياتې عمرې وکړی مونږ او تاسو ته چې الله جل جلاله فتحه را په برخه کړه مونږ هم بايد د مسلح جهاد ترڅنګ عمرو اداء کولو ته مخه کړو او کوښښ وکړو چې زياتې عمرې وکړو او ددې نعمت شکر اداء کړو.

په عمره کې اجر د زحمت او مصرف په اندازه وي په کارده چې په عمره کې خپل حلال مال ولګول شي ترڅو زيات اجر تر لاسه شي.(عَنْ عَائِشَةَ - رضي الله عنها - قَالَتْ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي عُمْرَتِي: إِنَّ لَكِ مِنَ الْأَجْرِ عَلَى قَدْرِ نَصَبِكِ وَنَفَقَتِكِ). سنن الدارقطني

ترجمه:- عائشه رضي الله عنها فرمايي چې ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم زماد عمرې په اړه وفرمايل: بيشکه شته ستاپاره اجر په اندازه د زحمت ستا او د مصرف ستا.

چا ته چې الله تعالى صحت او مال ورکړی وي په کارده چې د الله جل جلاله د کور زيارت وکړي او ځان د ثواب څخه محروم نه کړي. په يو قدسي حديث شريف کې راځي: (عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: قَالَ اللَّهُ: إِنَّ عَبْدًا صَحَّحْتُ لَهُ جِسْمَهُ، وَوَسَّعْتُ عَلَيْهِ فِي الْمَعِيشَةِ يَمْضِي عَلَيْهِ خَمْسَةُ أَعْوَامٍ لا يفد إلي لمحروم). صحيح ابن حبان

ترجمه:- د ابوسعيد خدری رضى الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې الله تعالى فرمايي: يو بنده ته چې زه سالم جسم ورکړم او رزق ورته پراخه ورکړم او پنځه کاله ورباندې تيرشي او زما لورى ته سفر ونه کړي، خامخا داسې شخص د ثواب څخه محروم دی.

عمري ته پيغمبرعليه السلام کوچنى حج ويلى دى. رسول الله صلى الله عليه و سلم عمروابن حزم ته دا سې وليکل: (العمرة الحج الأصغر) السنن الصغرى للبيهقي ترجمه: عمره کوچنى حج دى.

رسول الله صلى الله عليه وسلم دحضرت عمررضي الله عنه څخه وغوښتل چې د عمرې پروخت مې له دعاء څخه هير نکړئ. په يو روايت کې دا سې راځي: (عمر بن الخطاب - رضي الله عنه - قال: اسْتَأْذَنْتُ رسولَ الله - صلى الله عليه وسلم- في العُمْرة ، فأَذِنَ لي ، وقال لي: لا تَنْسَنا يا أُخَيَّ من دُعائك - أو قال: أشْرِكْنا يا أُخَيَّ في دعائك). أحمد ، أبو داود ، الترمذى

ترجمه:- حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د عمرې کولو لپاره اجازت وغوښتلو هغه راته اجازت وکړ او راته يي وويل: مه هيروه مونږ ای زما ورور کيه د خپلې دعاء څخه او يا يې راته داسې وويل: شريک کړه مونږه ای زما ورور کيه په خپله دعاء کې.

## د عُمرې حکم:

په مسلمان باندې په ټول عمر کې يو ځل عمره کول سنت مؤکد ده او زياتې عمرى کول فضيلت او مستحب کار دی. (درالمختار ، تحفة الفقهاء)

امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله فرمايي: (عن محمد عن أبي حنيفة قال العمرة ليست بواجبة ومن اعتمر فقد احسن واخذ بالفضل ولا بأس ان يعتمر الرجل ما احب من العمرة) [الحجة على أهل المدينة]
امام محمد رحمه الله د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله څخه نقل کوي چې هغه فرمايلي دي چې عمره واجب نه ده او څوک چې عمره وکړي په تحقيق سره چې زيات نيک کار يي وکړ او په فضيلت يې عمل وکړ او پروا نه کوي دا چې يو سړی دومره عمرى وکړي څومره چې يې خوښه وي.

## د يوې څخه زياتې عُمرې کول:

جمهور فقهای کرام وايي چې زياتې عمرې کول مستحب عمل دی او مسلمان کولای شي چې په يو کال کې حتی په يوه مياشت کې څو ځله عمره وکړي او دا د زياتو صحابه کرامو او تابعينو مذهب دی؛ ځکه د عمرې د فضيلت په باره کې چې کوم آحاديث راغلي دي هغه مطلق دي. [الموسوعة الفقهية الكويتية]

علی رضي الله عنه به ويل په هره مياشت کې يوه عمره ده. د انس ابن مالک رضی الله عنه به چې کله سر تور شو يعنی د سر ويښتان به يې را شنه شول عمره به يې کوله. [الأم للشافعی]

عبدالله ابن عمر رضي الله عنه به په هرکال کې يوه عمره کوله .[ابن أبي شيبة ، وعبدالرزاق]

حـ ضرت سعيد ابن الـه سيب رح فرمايي: حـ ضرت عائـ شې ر ضی الله عنها په يو کال کې دوه ځله عمره وکړه يو ځل د ذوالحليفې څخه او بل ځل دجحفې يعنی مکې تنعيم څخه. [ مسند الشافعي]

امام محمد رحمه الله فرمايلي دي: پروا نه کوي چې يو سـړی په يوکال کې څو ځله عمره وکړي ځکه چې مونږ ته روايت رارسـيدلی دی چې حضرت عائشـې رضي الله عنها په يو کال کې څوځله عمره کړی ده. [ الحجة على اهل المدينة]

عطا ابن ابي رباح رح به ويل: که د چا خوښه شي په هره مياشت کې دې دوه ځله عمره وکړي.

امام احمد رحمه الله فرمايي: کله چې څوک عمره وکړي بايد چې خپل سر يا خريوي او يا يې کم کړي او په لسو ورځو کې د سر خريل امکان لري.[المغني لابن قدامة]

په يو کال کې د څو ځله د عمرو کولو او د عمرې په تکرار کې کوم شرعي مانع نشـته؛ ځکه چې دا نفلي عبادت دی او بنده وربانديې الله تعالی قرب او نږديوالی حاصـلوي ځکه خو صـحابه کرامو لکه عائشـه، عبدالله ابن عمر رضي الله عنهم اجمعين په يوکال کې څو ځله عمرې کړي دي.

امام نووي رح فرمايي: دوه او دری عمرې کول مکروه نه دي او به يوه ورځ کې کول يي مکروه نه دي بلکې زياتې عمرې کول مستحب دي زمونږ په مذهب کې.[المجموع]

امام ابن عبد البررح فرمايي: جمهور علماء په دې نظر دي چې په يوه ورځ او شـپه کې زياتې عمرې کول جائز دي ځکه دا دخير او نيکی کار دی .[الاستذکار]

البته که چيرې څوک حج ته ولاړشي او لومړی عمره وکړي د پی درپی عمرې کولو او په عمره کې له افراط څخه دې ځان و ساتي ترڅو د حج د منا سکو د اداء کولو څخه ضعيفه نشي او کله چې د حج د منا سکو څخه فارغ شي بيا کولای شي چې زياتي عُمرې وکړي.

## د بل چا لپاره عمره کول:

عمره د حج په شان بدني او مالي عبادت دی او لکه څرنګه چې د بل چا لپاره حج کول جائز دي د بل چا لپاره عمره اداء کول هم جائز دي په دې شرط چې بل شخص ورته د ځان لپاره د عمرې د اداء کولو امر وکړي.

په حديث شريف کې راځي: (عَنْ أَبِي رَزِينٍ الْعُقَيْلِيِّ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَبِي شَيْخٌ كَبِيرٌ لَا يَسْتَطِيعُ الْحَجَّ وَلَا الْعُمْرَةَ وَالظَّعْنَ قَالَ حُجَّ عَنْ أَبِيكَ وَاعْتَمِرْ). سنن النسائي

ترجمه:- دابو رزين عقيلي رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړ چې ای د الله رسوله! زما پلار زيات سپينږيری سړی دی او نشي کولای چې پخپله حج وکړي او يا عمره وکړي او په لاره تللی نشي او په سپرلی سپريدلی هم نشي. پيغمبرعليه السلام وفرمايل: د خپل پلار څخه حج وکړه او عمره وکړه

## د عُمرې د اداء کولو افعال :

د عمرې د اداء کولو لپاره د پنځو کارونو ترسره کول ضروري دي:

١. د ميقات څخه احرام تړل.

٢. د کعبې شريفې څخه طواف کول.

٣. د مقام ابراهيم ترشا دوه رکعته لمونځ کول او د زم زم اوبو څښل.

۴. د صفا او مروه ترمنځ سعی.

۵. د سر خريل او يا کمول.

## د عمرې اداء کولو ميقاتونه:

د عمرې او حج ميقاتونه دوه ډوله دي يو زماني ميقات او بل مکاني ميقات:

١- زماني ميقات: د احنافو په نزد عمره کول په ټول کال کې پرته له کراهيته جواز لري علاوه د پنځو ورځو څخه چې د عرفې ورځ، د قرباني ورځ او دری ورځې وروسته د قرباني د ورځو څخه.

علامه شرنبلالي ليکلي دي: ټول کال د عمرې لپاره وخت دی بې له کراهيته پرته له پنځو ورځو څخه چې هغه د عرفې ورځ، د قرباني ورځ او دری ورځې د تشريق دي چې په دې پنځو ورځو کې د عمرې لپاره احرام تړل مکروه تحريمي دي. [نورالايضاح]

په يو روايت کې داسې راځي: (عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ : حَلَّتِ الْعُمْرَةُ فِي السَّنَةِ كُلِّهَا إِلاَّ فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ : يَوْمُ عَرَفَةَ ، وَيَوْمُ النَّحْرِ ، وَيَوْمَانِ بَعْدَ ذَلِكَ). السنن الکبری للبيهقي

ترجمه: د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی هغه فرمايي: حلاله ده عمره کول په ټول کال کې مګر په څلورو ورځو کې د عرفې ورځ، د قرباني ورځ او دوه ورځې وروسته له اختر څخه .

٢- مکاني ميقات: ميقات د هغه مشخص حدودو څخه مراد دی چې حاجي او معتمر د هغې ځای څخه پرته له احرام تيريدل جواز نلري او که چيرې حاجي او معتمر پرته له احرامه ددغه ځای تير شو وربانديې دم لازميږي.

د مکې د اوسيدونکو لپاره د احنافو په نزد تنعيم دی؛ ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم عبدالرحمن بن ابوبکر ته وفرمايل چې عائشه رضي الله عنها له ځانه سره بوزه ترڅو دتنعيم څخه د عمرې لپاره احرام وتړي.

او د آفاقي خلکو لپاره او د هغو خلکو لپاره چې کورونه يې له ميقات څخه بيرون دي او هغه خلک چې له لرې ځای راځي د هغوی ميقات پنځه ځايونه دي ذوالحليفه، جحفه، قرن المنازل، يلملم او ذات عرق دي؛ لکه عبدالله ابن عباس رضي الله عنه چې فرمايي: ( عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ : أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- وَقَّتَ لأَهْلِ الْمَدِينَةِ ذَا الْحُلَيْفَةِ

وَلأَهْلِ الشَّـــامِ الْجُحْفَةَ وَلأَهْلِ نَجْدٍ قَرْنَ الْمَنَازِلِ وَلأَهْلِ الْيَمَنِ يَلَمْلَمَ) وفي رواية مســـلم عن جابر بن عبد الله رضي الله عنهما قال: (ومهل أهل العراق من ذات عرق) . صحيح البخاری و صحيح مسلم

ترجمه:- د عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د اهل مدينه لپاره ميقات ذوالحليفه وټاکه او د شـــام خلکو لپاره يې جحفه ميقات وټاکه او د نجد خلکو لپاره يې ميقات قرن المنازل وټاکه او ديمن خلکو لپاره يې يلملم وټاکه . د مسلم په يو روايت کې راځي رسول الله صلی الله عليه وسلم د عراق خلکو لپاره ځای داحرام ذات عرق وټاکه.

کوم خلك چې له افغانســـتان څخه عمرې ته ځي کولای شي چې د کابل په هوايي ميدان کې احرام وتړي او يا هغه وخت په هوايي جهاز کې احرام وتړي کله چې په هوايي جهاز کې د احرام تړلو اعلان وشي.

## د عُمرې د اداء کولو طريقه:

معتمر لومړی بايد غســـل وکړي او يادې اودس وکړي او دميقات څخه دې احرام وتړي او ددوه رکعتونو لمونځ کولو سره دې د عمرې نيت وکړي او داســـې دې ووايي:( اللهم انی اريد العمرة فيسرهـــالی وتقبلهامنی) او تلبيه دې ووايې (لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ ، لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لا شَرِيكَ لَكَ) د تلبيې په ويلو سره محرم گرځي. کله چې مکې مکرمې ته داخل شـــو د بيت الله شريف څخه به اووه گردش دعمرې طواف وکړي بيا به دوه رکعته لمونځ د ابراهيم مقام شاته وکړي او که چيرې د ابراهيم مقام شاته ځای نه وي او يا ازدحام وي د مطاف په بل کوم ځای کې دې دوه رکعته لمونځ وکړي او بيادې د زم زم اوبه وڅښي، بيا به د صفا او مروه غونډيو ترمنځ اووه ځله سعی وکړي، بيا به سلماني ته ولاړشي او خپل سر به وخريوي او يا دې کم کړي خو خريل يې غوره دي ددې کارونو په کولو سره عمره پوره شوه.

### د احرام ممنوعات او محظورات:

د يادونې وړ ده هر هغه څه چې په فرضي حج کې ممنوع دي په عمره کې هم ممنوع دي لکه فسق، د جماع خبری، جنگ او جدال، د خوشبوی استعمال، د سر او مخ پټول سړو لره، د نوکانو قطع کول، د ښکار کول او يا ښکار لپاره بل ته اشاره کول.

## د عمرې متفرقه حکمونه:

۱- په رمضان المبارک مياشت کې عمره کول ډيره بهتره ده ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ( عُمْرَةٌ في رَمَضَانَ تَعْدِلُ حَجَّةً) متفق عليه .

ترجمه:- په رمضان کې د يوې عمرې ثواب برابر دی د يو حج سره .

په بل حديث شريف کې راځي چې په رمضان کې يوه عمره کولو ثواب دومره زيات دی لکه څوک چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يوځای حج وکړي. په حديث مبارک کې راځي: ( أَنَّهَا تَعْدِلُ حَجَّةً مَعِی). يَعْنِی عُمْرَةً فِي رَمَضَانَ. سنن أبی داود عمره په رمضان کې د عمرې کولو ثواب برابر دی زما سره د يو حج.

۲- د حج او عمرې د احرامون ترمنځ هيڅ فرق نشته، په هر هغه جنايت باندې چې دحج په احرام کې دم لازميږي د عمرې په احرام کې همورباندې دم لازميږي.

| |
|---|
| **نوټ:- د قدرمنو خطيبانو، ائمه او امامانو څخه په خورا درنښت هيله کيږي؛ ترڅو په هره جمعه کې د افغانستان اسلامي امارت ننگه، حمايت او هر اړخيز ملاتړ وکړي او د اسلامي امارت مخالفت، بلوا گري ددې لوی نعمت ناشکري او ناوړه کار وبلي او وه يې ځپي. مسلمانان بايد خپل دښمن وپيژني.** |

**السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته**